ع، ابراهيمي ۲۰۱۵/۰۴/۲۷

که د ملي وحدت حکومت داسې ونکړي نو!

د ۱۳۹۳ ولسمشريزو ټاکنو لپاره په ټول هېواد کې ولس په مينه او پوره اخلاص ونډه واخيسته او د خپلې خوښې نوماند ته يې رايه ورکړه، ټاکنې د لومړي پړاو (د ۱۳۹۳ د حمل ۱۶) څخه راووتې او ميدان ته د ۱۱تنه نوماندو څخه يوازې ۲ تنه ته پاتې شو چې د همدې کال د جوزاء په ۲۴مه د دوهم ځل لپاره ټاکنې ترسره شوې، د همدې ورځې څخه د دواړو مخکښو نوماندو تر منځ ناندرې پيل او اوج ته ورسېدې، چې بالاخره د امريکا متحده ايالاتو په منځګړيتوب د ملي وحدت حکومت په نوم نوې پاڼه د افغانستان په تأريخ کې پرانيستل شوه.
د ملي وحدت حکومت په دوه برخو وويشل شو، چې ډاکټراشرف غني احمدزی جمهور رئيس او ډاکټرعبدالله عبدالله د اجرائيه رئيس په توګه خپل رسمي کار د ميزان په ۷مه نېټه پيل کړو، دا هغه ورځ وه، چې د پخواني ولسمشر حامدکرزي اخيرنۍ وينا ته ډېرو هېوادوالو اوښکې توی کړې او د نوی ولسمشر اشرف غني وينا يې په چکچکو بدرګه کړه، ولس سره نوې هيلې او اميدونه پيدا شول، چې ګواکې نوی حکومت به د نوي هوډ او نوي عزم سره د ولس خدمت وکړی شي، ولس د محمداشرف غني په لومړۍ وينا ډېرباوري و، خو د اوو مياشتو په تېرېدو نه خو ولس داسې کوم مثبت بدلون وليد او نه حکومت کومه لويه لاسته راوړنه لري.
نوي حکومت په ګمارنه کې تر ډېره بريده پر هغه ځوانانو تمرکز وکړو، چې په انجوګانو کې مشاورين و، (ځوانان دې نه خفه کېږي، ځکه حقيقت ليکل پکار دي)، دوی نويو ځوانانو ته فکر وکړو او د وزارت تر څوکيو يې ورسول، ولې څنګه چې په حکومتداری کې لازمه ده دوی هغومره تجربه نلري، او نشي کولای چې په سمه توګه چارې پر مخ بوزي.
ملي وحدت حکومت په راتګ سره د ارګ په داخل او پردۍ پالو رسنيو کې يو شمېر قومی مشران، جهادي شخصيتونه او بانفوذه څيرې ورټل شوې، نن ورځ مې په يو خبري سايټ کې پر دې خبر سترګې ولګېدې، چې (په نږدې راتلونکې کې به د ملي امنيت سلاکار حنيف اتمر ځای ناستی علي احمدجلالي وټاکل شي)، د دې تر څنګ خبر ليکل و، تر دې دمخه په ارګ دننه کې د کمپاين پر مهال د ولسمشر نږدې اشخاص (حليم فدايي او جمعه خان همدرد) د ارګ ساتونکو له لوري توهين او تحقير شوي او په زوره د ارګه ويستل شوي دي.
زما په اند که د ملي وحدت حکومت غواړي چې خپل پنځه کلن مزل اسانه کړي، او ولس ته په ښه شکل خدمت ترسره کړي، نو پکار ده، چې د پخوانيو چارواکو، سياسي څيرو او بانفوذه شخصيتونو له تجربو ګټه پورته کړي، د اشخاصو له توهين او تحقير څخه دې لاس واخلي او په سلاء مشوره دې د افغانستان راتلونکی روښانه کړي.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ